مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۴/۰۴/۱۹

# لاره

مونږ ته د خپل رب د عبادت لاره معلومه ده
مونږ ته د احد او وحدانیت لاره معلومه ده

هر یو په ممبر باندی ولاړ سړی هادی نه دی
مونږ ته د جاهل د هیدایت لاره معلومه ده

مه مچي کوئ د پیرصاحب لاسونه پاک نه دي
مونږته د هر پیر د حرکت لاره معلومه ده

کرکي نه ډک زړونه د دوستۍ او ملګرتیا نه دي
مونږ ته د دی زړونو د نفرت لاره معلومه ده

ډیر په کړو لارو بیول شوی یو، لویدلی یو
اوس را ته صفا، د انسانیت لاره معلومه ده

مه جوړوه ځان نه خلیفه د اسلامی قانون
مونږ ته د اسلام د خلافت لاره معلومه ده

دین کی محبت سره جواز د دښمني نشته
مونږ ته د خپل دین د محبت لاره معلومه ده

نورغورځوی نه شي ګرنګو نه کلیوال ساده
دوی ته د خپل ژوند د اهمیت لاره معلومه ده

اپریل / ۱ / ۲۰۲۴
ایجکس – تورنتو – کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ